وړځ

پوهنيزه، تولنيزه او ادبي دوه مياشتنۍ
د سايې د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

حـريت د هر ملت د بـدن زړه دی
که دا نه وي هم ملت مري هم بقا مري
پوهاند رشاد

پنځم کال، دوه يمه ګڼه ۱۳۸۳ هـ.ل تله او لړم، پرله پسې ۲۸ ګڼه

۱ پښتو ګرامر
۲ خلقت او پښتون
۳ د وزير محمد ګل خان بابا د ژوند فلسفه
۴ اماني دوره او په افغانستان کې...
۵ لوی تحول او لويه ازموينه
۶ ګلوبالزاسيون
۷ د زردشت کتاب
۸ د لاهور نندارە
۹ ولې به نه ژاړم!
۱۰ د لنډۍ ساه پوهنيز ارزښتونه
۱۱ کابل دی که د لامده خوړ خيرات
۱۲ سمه پښتو وليکئ....

شمس العلما علامه سيد قاضي مير احمد شاه رضواني د ترکستان و. د يادونو کاروان...

... چې څومره پارسو زړه کېږي، هومره پښتو ته نږدې کېږي.
... ما زيات لوستل وکړل او دا احساس را ته وشو، چې د قلندر صاحب ډېرې خبرې د منلو وړ نه دي.
... پښتانه مزاجاً د جمال نه زيات د جلال قايل دي.

حنيف خليل

ناتور اروابنباد محمد امين خوږياني په خټه يوسفزی و. د يادونو کاروان...

WRAZ

Scientific Social & Cultural
Bi Monthly Magazine

Sapi 's Center for Pushto Research & Development

Issue Number 02, Serial Number 28 - (October-November)2004

پوهاند رشاد ته ډالۍ

"حریت"

د مادې په ځای چې تل په کې معنا مري
د هغه کلي ویاړنې خامخا مري
چې په تول کې د املو کو مینه پلوري
هغه نار کې هم مجنون مري هم لیلا مري
چې بې ابه بې ابرو بې سرېتوب شي
هم باران په کې وچیږي هم دریا مري
د پتمن ژوند رهنما وي سلیم عقل
چې د عقل لار ړنده شي رهنما مري
دم دعا چې له سپیځلي زړه را پاڅي
په دغې دعا قسم هره بلا مري
سپیځلتوب دی چې د ژوند احترام ساتي
خپرن زړه په تش پوکي باندې د چا مري
چې جوهر د سرېتوب کړي تر پښو لاندې
د هغه ژانده هم دین مري هم دنیا مري
"حریت د هر ملت د بدن زړه دی
که دانه وي هم ملت مري هم بقا مري"
چې لښکرې په درکاو کې قتیله
د هغه سر کرامت به په رښتیا مري

قتیل خوږیانی
کابل ۱۳۷۹ هـ ش

محمدامین خان خوگیانی
Mohammad Amin Khogyani
تاریخ تصویر:
۸ جدی ۱۳۱۸ (1940)
سال چاپ حیات سید جمال الدین افغان
کابل 1940

د یادونو کاروان

د "ورځ" درنو لوستونکیو!

دا څل مو د ګران هېواد د تاریخ یوه وتلې، منلې، سیاسي فرهنګي، مذهبي او د شاهي پارلمان غړي ارواښاد سناتور محمد امین خوږیاني په یاد د هغه د کړنو په هکله یو څه معلومات ستاسې درانه خدمت ته غوړه کړیدي، چې ددغو معلوماتو ډېره برخه د ارواښاد د زوی ښاغلي مدیر صفي الله خوږیاني په ویناو او یادښتونو بنا ده.

اجمل اټک یوسفزی

ارواښاد محمد امین خوږیانی

د خدای ﷻ بخښلي محمد امین خوږیاني په خپل لاس کښل شوي سوانح او خاطرات په غیر منظمه توګه په سلګونو پاڼو مشتمله یوه مجموعه وه چې د بده مرغه د هغوي ټول لیکل شوي اثار او کتابتون چې تر ۱۶۰۰ زیات کتابونه پکښې خوندي وو د هیواد په تیره ۲۵ کلنه غمیزه کې او خصوصاً د مجاهدینو او مخالفینو او تنظیمي جګړو په بهیر کې له منځه ولاړل اوس په دې ځای کې زه د خپلې حافظې په اتکا د نوموړي په هکله ګرانو لوستونکو ته د هغه د ژوند په باب مختصراً داسې معلومات برابروم.

خدای ﷻ بخښلي محمد امین خوږیانی د فاضل مولوی حافظ مجاهد محمد اسرایل شهید زوی، د حافظ مولوي حفیظ الله لمسي په خټه یوسفزی په ۱۲۷۸هـ ش کال د جدګې د میاشتې په ۱۱ نېټه د خوږیانو دکنابات په کلي کې زیږیدلی او په وړوکوالي یې د خپل وخت متداو له علوم ادبیات، طبیعیات، ریاضي منطق. فلسفه او نور دیني علوم له خپل فاضل پلار څخه لوستي وه کله. چې نوموړی د خپل فاضل پلار تر څنګ په تدریس لاس پورې کړ هغه وخت یې لا د خپل عمر ۱۷ کاله نه وه پوره کړي (په کال ۱۲۹۵ هـ ش) کې یې پلار د انګریزانو د بنکار ګوډاګیو په لمسه د شهادت لوړ مقام ته ورسول شو د کور مسؤولیت او نوري ټولې چارې دغه ۱۷ کلن خوان ته ورپاتې شوې د پلار په قاتل یې دعوا وکړه سره له دې چې ډېر خنډونه یې مخ ته پراته وو او دښمن قوي دوستان درلودل خو د خپل پلار د دوستانو په تیره بیا د نصرالله خان نائب السلطنه او قاضي نظام الدین معروف په قاضي عسکر چې دغه وخت د مشرقي ولایت د مدافعې قاضي و. په بې ساري مرسته بندي او وروسته یې د قصاص حکم پرې واخیست جالبه خبره داده چې خدای بخښلي خوږیاني صاحب د خپل خوانې په لمړیو وختونو کې د خپل شهید پلار قاتل په داسې حال کې چې شرعي حکم یې په لاس کې و او د تطبیق له پاره یې ټول شرایط برابر و د خپل علم په رڼا کې او د لوي خدای (ج) د رضا په خاطر د هغه قاتل وبخښلو خو په حقوق الله کې محکمې هغه محبوس کړ او بالاخره په هماغه محبس کې مړ هم شو تر دې وروسته په کال ۱۲۹۹کې مرحوم خوږیاني صاحب په افغانستان کې د کابل تر ښار وروسته لومړني ښوونځي د خوږیانیو په مرکزي بازار کې

کې پرانست ددغه ښوونځي تعليمي دوره پنځه کاله وه. کله چې په لوی مشرقي کې د مکتبونو شمېر مخ په زياتيدو شو د نوموړي ښوونځي په چوکاټ کې يو ټولګی بل هم زيات کړ شو. په دغه ټولګي کې به يې معلمين روزل او همدغه فارغان د مشرقي په نورو ښوونځيو کې د استادانو په توګه مقرريدلای شول. د دغه دارلمعلمين له فارغانو څخه ځينې اوس هم ژوندي دي.

د اتحاد مشرقي جريدې، چې څو ميا شتې وړاندې يې د مرحوم مرزا شاه رخ خان چترالي تر مديريت لاندې په فارسي ژبه خپرونې پيل کړې وې د کال ۱۳۰۰ ل په وروستيو ورځو کې خدای بخښلي خوږيانی صاحب د نوموړې جريدې د معاون په توګه وټاکل شو. په کال ۱۳۰۱ کې مشرقي ولايت (اوسنی ننګرهار، لغمان، کنړ او نورستان) د معارف مديريت جوړ کړای شو. خوږياني صاحب د اتحاد مشرقي د معاونيت ترڅنګه د نوموړي مديريت معاون هم وټاکل شو او ددې سره يو خای د لغمان د چارباغ صفا او کامې مکتبونه په همدغه کال کې تاسيس او پ ه کار يې پيل وکړ. د کال ۱۳۰۱ پ ل اوږدو کې مرزا شاه رخ چترالی د اتحاد مشرقي موسس د عمر د زياتوالي په وجه استعفی ورکړه او خوږيانی صاحب د اتحاد مشرقي مدير شو. په همدغه کال کې د لوی مشرقي د معارف مدير په توګه هم وټاکل شو. دغه دواړه دندې نوموړي په جلال آباد کې د اماني حکومت تر رنګېدو- (۱۳۰۷ هـ ش) پر مخ بېولې. د اتحاد مشرقي جريده، چې په مياشت کې يو خل په فارسي ژبه خپرونې لرلې د دوی د مديريت په زمانه کې په هفته کې يو خل خپرېدله او يوه صفحه پښتو نشرات يې هم پکښې خاې کړه. د مشرقي ولايت د معارف لومړنی تيږه د کښې له ښوونځي څخه خدای بخښلي خوږياني صاحب پيل کړې او د مشرقي ولايت د معارف مدير په توګه سره له دې، چې د عصري تعليم په مقابل کې ډېر خندونه موجود وه، خو په مذهبي حلقو کې د خوږياني صاحب د حمايت له برکته دوی وکولای شول د کال ۱۳۰۷ ل پورې د هغه وخت د مشرقي په هر محلي حکومت (ولسوالی) او علاقه داری کې يو يو ښوونځی جوړ کړي. په سقاوي دوره کې فرهنګي او ښوونيزې چارې په تېپه ودرېدلې. خوږيانی صاحب، چې د اعليحضرت غازي امان الله خان د تعليمي او فرهنګي پروګرامونو سره موافق او د هغوی په تېپه دريدلو مخالف و، نو، ځکه يې د سردار محمد هاشم خان، چې په ظاهره يې د اماني دورې د بيا اعادې له پاره کار کاوه، ملاتړ وکړ. په کال ۱۳۰۸ کې د نادری دورې د پيل په ورځو يې د خپلې کورنۍ د سر سيوری ته کولو په خاطر- خپل کور، چې د سقاوي دورې په ورانيو کې يې لاړې او تيران او دورازې د مخالفينو له خوا سوځول شوي وه، بيا ودان کړو او د نوموړي کال د قوس په وروستيو ورځو کې کابل ته تشريف يووړ، څو نو يو حاکمانو ته مبارکي ووايي. په دې لړ کې يې د اعليحضرت محمد نادر شاه سره هم ليدلي وه. خوږياني صاحب ويل، چې نادر شاه راته وويل. دا دومره وخت چېرته وې ما د خپلو مصروفياتو حال ورته ووايه بيا يې راته وويل، چې ته غواړې د ملک په اداره کې زمونږ سره همکاري وکړې. ما ورته وويل، چې زه له اداري سره علاقه نه لرم که لازمه يې بولئ، نو فرهنګي کار راکړئ، نو بيا يې راته وويل، چې دا ښه خبره ده. د اصلاح جريدې د مدير په حيث به دې وټاکم. اخبارونه مستقيماً زما تر اداري لاندې کار کوي او بل آمر په سر نه لري. ما ورسره ومنله او د اصلاح د مدير په توګه مقرر کړای شوم. دا وخت اصلاح جريده په هفته کې يو خل خپرېدله او د دوی تر اداري لاندې دغه جريده ورځ پاڼه شوه.

بيا د انيس جريدې د امتياز خاوند او مسؤل مدير په توګه وټاکل شو. دغه جريده هم په هفته کې يو خل خپرېدله او د دوی تر مسؤليت لاندې نوموړې جريده هم ورځ پاڼه شوه.

د يادونې وړ يې بولم، چې دا وخت اخبارونه د ليکوالانو په نيشت والي اخته وه. د بلې لورې، ټول اخبارونه سرکاري وه او يوازې دحکومتي پاليسيو د خپرولو حق يې درلود. يوازې د سردار شاه محمود خان په حکومت کې ۱۳۲۴ ل تر ۱۳۳۰ ل په سر کاري اخبارونو سانسور په نسبي توګه لرې کړای شو، سره له دې هم د افغانستان مورخينو د اصلاح او انيس اخبار پر خپرو- شويو خبرونو د افغانستان د هغه وخت تاريخ ليکلی دی، چې د نوموړي د سياسي بصيرت او تاريخي مسؤليت پوره څرګندونه او ښه استازيتوب کوي.

خدای بخښلی خوږيانی صاحب تر کال ۱۳۱۹ ل د انيس ورځ- پاڼې د امتياز خاوند او مسؤل مدير په توګه کار وکړ، په ياد شوي کال کې د مطبوعاتو مستقله اداره جوړه شوه او ټول مستقل، خو د حکومتي پاليسيو طابع اخبارونه او نشرات د نوموړي اداري تر اثر لاندې راغلل. نوموړي اداري په راس کې دوه مشاورين وټاکل شول. لومړی مشاور يې صلاح الدين سلجوقي صاحب او دوهم مشاور يې خدای بخښلی خوږيانی صاحب وټاکل شو، چې وروسته يې لومړی مشاور د رئيس مستقل مطبوعات او دوهم يې د معاون په نومونو ونومول شول. دغه دنده يې په ډېره مينه او صداقت تر کال ۱۳۲۴ ل پورې سرته ورسوله په کال ۱۳۲۴ ل کې د عدليې وزارت لومړی معين او ور-

پسې کال ۱۳۲۵ هـ ش کې د معینیت تر څنګ د تمیز د عالي ریاست دنده هم وروسپارل شوه. د هغه وخت د اساسي اصولو او احکامو مطابق د تمیز ریاست د هېواد مستقله قضائیه قوه ګڼل کیده، خو عملاً دغه آزادي نه وه ورکړل شوې. د تمیز ریاست پر پرېکړو د عدلیې وزیر موافقت عملاً لازمي ګرځول شوی و. کله چې مرحوم محمد امین خوږیاني د تمیز رئیس په توګه وټاکل شو نومورې د وخت صدر اعظم سردار شاه محمود خان ته د هغه وخت د اساسي اصولو پر بنا وړاندیز وکړ، څو دغه عالي ریاست د عدلي پریکړو په کولو کې مستقل وګرځول شي. د صدر اعظم د حکم پر اساس د تمیز عالي رئیس د محکمې په پرېکړو کې مستقل کړای شو. یوازې د قصاص او اعدام په صورت کې د پادشاه موافقه لازمي وګڼل شوه، خو دغه امتیاز د نومورې د ریاست د دورې تر پایه وچلېده تر ده وروسته رئیسانو د پخوا په څېر د عدلیې د وزارت له موافقې پرته حکم نشو کولای. دغه لړۍ د ۱۳۴۳ هـ ش د اساسي قانون له تصویب وروسته د نوي قواو صلاحیتونو تر وېشلو پورې (۱۳۴۴ هـ ش) دوام درلود. خدائ بخښلی خوږیاني صاحب د کال ۱۳۲۹ هـ ش په ورستیو کې د عدلیه وزارت له معینیت او د تمیز د عالي ریاست د دندو ترڅنګ د مشرانو جرګې په غړیتوب وګمارل شو. دغه دنده یې د میزان ۱۳۴۳ د اساسي قانون د تصویب د لویې جرګې تر ګډون وروسته کله چې زوړ پارلمان (مجلس شورای ملي او مجلس اعیان) د شاهي فرمان له مخې رنګ کړای شو، نومورې تر دې دمه دندې ته دوام ورکړ او په همدغه کال د ۶۶ کالو خدمت وروسته تقاعد ورکړل شو، خو کله چې په کال ۱۳۴۴ کې نوي پارلمان منتخب کړای شو، نو مرحوم خوږیاني صاحب یو ځل بیا د پنځه کلنې دورې له پاره د انتصابي سناتور په توګه د پارلمان له لورې وټاکل شو.

د اړوندو ادبي او فرهنګي هڅې:

د مرحوم خوږیاني صاحب د تالیفاتو او ترجمې لړۍ کتاب د «تتمة البیان فی تاریخ الافغان» ترجمه ده، چې د دغه کتاب ژباړه یې په کال ۱۳۱۲ هـ ش کې د نادر شاه په ژوند بشپړه کړې وه په دې هکله د نومورې دخپلې خولې بیان داسې دی، چې «په کال ۱۳۱۰ هـ ش کې نادر شاه د نوي نسل د بیا رغونې په منظور د لس دولس عنوانو لاندې د مستقلو تالیفاتو د پاره سپارښتنه کړې وه او د دې کار تر سره کول یې د کابل ادبي انجمن ته، چې زه (خوږیاني) یې افتخاري غړی وم وسپارله کله چې په مجلس کې عنوانونه اعلانېدل هر چا دځان له پاره یو یو عنوان انتخاب کړ. په عنوانونو کې د یو عنوان نوم و (افغانستان و اسلامیت) دغه عنوان په دا وطلبانه توګه چا وانخیست، نو ما وویل، چې دغه پاتې عنوان یې زما شو. زه به په دې موضوع لیکل وکړم. څرنګه، چې زه په دغه وخت کې د اخبار مسؤل وم او دې موضوع کافي وخت غوښت، نو ومې نکړای شول، چې د کتاب په لیکلو پیل وکړم. کال ۱۳۱۱ هـ ش کې یوه ورځ په ارګ کې د سردار نصر الله خان مرحوم کتابتون ته د معمول په ډول راغلم هلته مې د سید جمال الدین افغاني تالیف تتمت البیان فی تاریخ الافغان نومې رساله، چې د سید په ژوند په قاهره کې چاپ شوې وه، لاس ته راغله. کله چې مې د نومورې رساله ولوسته، نو پته راته ولګېده، چې که دغه رساله د عربي څخه په فارسي ژبه ترجمه کړم، نو زما په قسمت د رسیدلي عنوان (افغانستان و اسلامیت) ضرورت به هم پوره کړای شي، نو د نومورې رسالې په ترجمه مې له عربي څخه په فارسي لاس پورې کړ او د اعلیحضرت محمد نادر شاه تر مړینې وړاندې مې دغه کار بشپړ کړ. مخکې تر دې، چې زه د نومورې کتاب مباحث په داسې عناوینو باندې ووېشم، چې ما ته د راسپارل شوي مطلب (افغانستان و اسلامیت) څرګنده تر جمانې وکړای شي پاد شاه په شهادت ورسول شو او تردې وخته هیڅا هم خپلې ورسپارل شوې فرهنګي دندې سر ته ونه رسولای شوې.

کله چې د علامه سید جمال الدین افغاني د جسد د راوړلو اراده افغانستان ته د حکومت له خوا څرګنده کړای شوه، دا وخت د سید دپورتني تالیف فارسي ترجمه په بشپړه توګه زما سره پرته وه. د یادونې وړ یې بولم، چې خوږیاني صاحب وویل، چې سردار نصر الله خان نائب السلطنة د امیر عبدالرحمن خان دویم زوی د نومورې کتاب په وروستني مخ په خپل قلم په سور رنګ لیکلي (سید جمال الدین متوطن فی سیدآباد من توابع کابل) دغه ټکی ښاغلي وتلیو او منلیو لیکوالو څېړونکو لکه ارواح ښاد بهاء الدین مجروح ته د پام وړ دی، که چېرې د شاهي ارګ کتابتون د تېرو تاراکونو څخه په امان کې پاتې شوی وي، نو د سردار نصر الله خان کتابونه به هم په نومورې کتابتون کې خوندي وي. بنایي د موجوده نظام پلویان دغه کتاب او د هغې پر وروستۍ پاڼه د سردار نصر الله خان لیکنه د سر په سترګو وګوري. اوس به راشوو اصلي موضوع ته. خدائ بخښلي خوږیاني صاحب د تتمة البیان فی تاریخ الافغان سره د هغوی د شخصیت، د هغوی د کارنامو، فعالیتونو او مسافرتونو په هکله مفصل او مستند معلومات خپلولو ستونکوته د (حیات سید-

جمال الدین افغاني) په نوم وړاندې کړي.ددې تر څنګ يې دسید د اصلي تاټوبي په هکله د ښاغلي مرحوم سید حسن پاچا صاحب‌چې د سید حسن خانۍ افشار د نادر خان په دوره کې د دفاع وزارت مرستیال او د لغمان د لالاپاچا صاحب د پلار د خولې څرګندونې کړې دي.په دې هکله به د خپل فاضل پلار اروابنـاد خوږیاني څرګندونې په مناسب وخت کې ګرانو لوستونکوته وړاندې کړم.د تتمة البیان فی تاریخ الافغان فارسي ترجمه او د سید پر ژوند او حالاتو تحقیقي لیکنې او د سید زیږیدنې او تاټوبي په هکله د سید حسین پاچا صاحب بیان د حیات سید جمال الدین په نوم کتاب ارواح ښاد محمد امین خوږیاني په کال ۱۳۱۸هـ ش هغه وخت‌چې د سید جمال الدین افغاني تابوت کابل ته راوړل شو او د پوهنتون په سیمه کې خاورو ته وسپارل شو د مرحوم خوږیاني صاحب په خپل لګښت د انیس ورځپاڼې په مطبعه کې چاپ او د سید جمال الدین افغاني د څلوېښتم تلین په غونډه کې ووېشل شو. وړاندې تر دې‌چې دغه کتاب بازار ته د خرڅلاو له پاره راووځي د دغه کتاب د مخالفینو له خوا د پادشاه ذهنیت بدل کړی شو او کتاب مصادره شو‌چې د عواملو څېړل یې ښایي موضوع ډېره اوږده کړي.

د مرحوم خوږیاني صاحب دوه نور پښتو کتابونه‌چې د ۱۳۱۸ څخه وروسته تالیف شوي نومونه یې دا دي:

۱. د پښتو څلی،چې د خوشحال خان خټک د علمي ادبي اجتماعي او سیاسي ژوند په باب لیکل شوی دی.

۲. د پښتو څروې په نیمه وچه کې.د پښتنو د حکومتونو سیاسي، تولنیز، فرهنګي، اقتصادي او د تشکیلاتي چارو په هکله مفصل معلومات پکې درج شوي دي.

پورتنیو دواړو کتابونو په هېواد کې تر ټولو لوړې جایزې ګټلې. لومړنی کتاب په فارسي ژبه مختصراً د یو بل شخصیت په نوم چاپ شوی دی.جالبه خبره د لومړي کتاب په باب دا ده‌چې دغه کتاب اروابنـاد خوږیاني لیکلی او یو بل لیکوال په اختصار سره ژباړلی و.کله‌چې د کتاب د اشاعت اجازه ورکول کېدله دغـه دواړه شخصـیتونه (خوږیـاني صـاحب او پښتو څلـی اختصارونکي او ترجمه کوونکی) نومونې تالیف د یوه بنـه لټون نتیجه بللې او د جعلي لیکوال په نامه یې د هغه کتاب د نشر په هکله مثبته رایه ورکړې وه.

دویم کتاب ګمان کوم په ۱۳۶۵هـ.ش کال خوږیاني صاحب - په کابل پوهنتون خرڅ کړېخو هغوی چاپ نکړ او په قلمي توګه یې د ځان سره وساتلو.څو کاله وروسته د نومورې کتاب یوه برخه کټ مټ د یوه بل لیکوال د کتاب د برخې په توګه نشر ته وسپارل شوه د دغه کتاب خطي نسخه که چېرې قصداً چا نوي وړې د کابل په پوهنتون کې به اوس هم موجوده وي.د خدای بخښلي خوږیاني صاحب ډېر زیات نا چاپ — کتابونه د هغوی په کتابتون کې موجود وه‌چې ما ته د ټولو نومونه نه راځي.د هغوی په یوه مصاحبه کې‌چې د ۶۰ لسیزې په کلونو کې ورته اشاره شوې ده په دغـه کـتابونو کې یـو کـتاب د کانفرانس مشهد په نوم دی دا کتاب د یو عربي کتاب ترجمه ده‌چې یو کس د علامه سویتي په نوم لیکلی.دغه کتاب د نادر شاه افشار په زمانه کې د اهل تشیع او سنت والجماعت د پیروانو تر منځ د اختلافاتو د پای ته رسولو په امید د ۳۶۰ اهل تشیع علماو او ۱۲۰ تنو د اهل سنت والجماعت علماو تر منځ‌چې د ټول عالم اسلام څخه رابلل شوي وه او په مشهد ښار کې د نادر شاه افشار په هدایتې‌کانفرانس دائر کړې و.په دغه کانفرانس کې اهل تشیع علماء تعهد کړی دی‌چې تر دې وروسته به صحابه کرامو خصوصاً عشره مبشره ته بدنه وایي او د خپلو اسلافو هغه کتابونه‌چې په هغې کې عشره مبشره ته بد ویل شوي دي د تعلیمي نصاب څخه وباسي.په مقابل کې د اهل سنت والجماعت ۱۲۰ علماووعده ورکړې وه‌چې دوی به اهل تشیع باندې د څو سوه کلونو راهیسې د حج نه کولو بندیز له منځه وړي.همداسې وشول او پر اهل تشیع باندې مسجد حرام ته د نه ننوتلو بندیز پر د غې فیصلې‌دمکې مبارکې دمفتي اعظم تر لاسلیک ورڅخه دمنځه ولاړ.د یادونې ور یې بولم‌چې د نوموړي کانفرانس پریکړه لیک پر یوه لویه پانه‌چې په څلورو برخو وېشل شوی و.په څلور ژبو (عربي، فارسي، ترکي او پښتو) لیکل شوی او تر هرې برخې لاندې د ګډونکو او د مکې دمفتي امضا ګاني شوي دي.

ویل کیږي‌چې د مشهد کانفرانس پریکړه لیک د استانبول په موزیم کې خوندي دی.د علامه... سویتي کتاب‌چې په عربي ژبه لیکل شوی د ارګ په کتابتون کې خوندي و،خو اوس نه پوهیږم‌چې د تېرو ۲۵ کلونو د بېلابېلو فرهنګ وژونکو انقلابونو له تاراکه به په امان کې پاتې شوي وي او که څنګه اروابنـاد خوږیاني د خپلو خاطراتو پر کتاب د ژوند تر پایه کار کولو تل به یې د نوموړي کتاب د پنډوالي او د پانو د زیاتېدو په هکله تشویش درلود او دا به یې هم ویل‌چې په خاطراتو کې د دغه ټکو نه لیکل د کتاب ارزښت ته تاوان پېښوي.که‌کتاب پانې پرې زیاتېږي دا دومره خبره نده.ښایي دوه جلده یې کړو،خو د دوستانو د دوستۍ حق باید پر ځای.

شي او د هغوی ښې مشوري او مفید تجارب،چې پخپله یوه علمي پانګه ده باید د خپل ځان سره خاورته یو نه سم او باید چې پاتې نسل ته د پانګې په شکل کې خوندي او پاتې شي.

په تاسف سره باید ووایم،چې د دوی دغه آرزو او هیله د فرهنګ دښمنه ډلو د خاینانه عمل له لاسه تر سره نشوه او د هغه ډېره علمي پانګه د ده تر مړینې وروسته په قصدي ډول ضایع شوه.

خوږیاني صاحب په لیکنه کې د وضاحت او فساحت قایل و.په پښتو او پارسو دواړو ژبو کې د مشکلو او سختو الفاظو د لیکلو سره موافق نه و.

اروابنباد استاد خلیلي زه،خوږیاني صاحب تر وفات وروسته په ۱۳۶۵هـ.ش کال له پېښور څخه اسلام اباد ته وغوښتم او هلته یې د پلار د مړینې غمرازي راسره وکړه،خو پوښتل،چې استاد (خوږیاني) زما په هکله څه ویل.ما هغه ټولې مثبتې خبرې،چې د دوی په هکله زما پلار کولې هغوی ته واورولې بیایې راته وویل چې استاد زما دنا وړه کړو په هکله څه ویلې؟ ما ورته وویل،چې ستاسو یو شعر مې د مکتب د درسي نصاب له کتاب څخه خپل پلار ته ولوست هغوی راته وویل،چې دا د چا شعر دی ما ورته وویل،چې د استاد خلیلي شعر دی،نو خوږیاني صاحب وویل،چې خلیلي ته دې خدای انصاف ورکړي دومره مشکل لغات یې په دغه یوه شعر کې سره پیلي دي،چې هضم یې د دولسم ټولګي د زده کوونکي دزغم وړ ندی.په دې خبره استاد خلیلي وخندل او بیایې اوښکې له سترګو راغلې او ویې ویل،چې استاد رښتیا ویل.هغه وخت ما غوښتل فضیلت او علم خپلو لوستونکو ته څرګند کړم.اوس،چې مې عمر پوخ شوی دی غواړم،چې خلك پوه کړم،نو ساده او واضح الفاظ لیکم بیا یې خپله هغه مثنوي،چې د هجرت په شپو ورځو ویې لیکلې وه راکړه او راته یې وویل،چې که دغه مثنوي خدای بخښلی استاد لیدلای وی،نو ویل به یې،چې خلیلي اوس په مقصد پوه شوی دی.

په تولیز ډول خوږیاني صاحب یو مهربانه پلار، دوست او اشنا و بې شمېره دوستان یې لرل. په دوستۍ کې د امتحان او ازمېښت مخالف او په دوستۍ کې د مینې او صداقت سخت پلوي و.د افغانستان په ګوټ ګوټ کې یې ډېر ښه دوستان لرل.

په لیکوالۍ کې د حق الزحمې دومره زیات شوقي نه و،خو په خپل لیك دود یې ډېر تاکید درلود،چې زما د مضمون لیك دود کې لاس باید ونه وهل شي اوبل دا،چې د مضمون هدف او مقصد ته باید تغیر ورنکړل شي.همدا وجه ده،چې یو شمېر خاصو خپرونو ته یې لیکنې ورکولې د عقیدې په لحاظ ډېر مخلص مسلمان او د لمانځه او روژې سخت پابند و.د ذکات په ورکولو کې یې یو شمېر خاص خلك درلودل،چې هغوی ته به یې ورکاوه د خیر خیرات، صدقاتو او د قربانۍ یې زیاته پابندي کوله حتی د قربانۍ له پاره یې د قرض اخیستل هم جایز ګڼل.د اختر د قربانۍ پرته په نورو خاصو ورځو کې یې د خیراتونو سره علاقه نه لرله ؛ خو ویل به یې،چې خیرات او صدقات د غریبانو د نس مړولو په خاطر دي په داسې ورځ خیرات وکړئ او صدقه ورکړئ، چې خلك ورته ضرورت لري.د صدقه فطر په ورکولو کې یې د روژې د میاشتې په منځ کې ډېر تاکید کاوه ویل یې،چې د اختر په شپه ډېر خلك د فطر صدقه ورکوي د روژې په جریان کې یې ورکړئ،ځکه،چې په روژه کې د انسان د خوراك تلوسه ډېرېږي.کیدای شي،چې د کم مالي توان خاوندان هم د فطر د صدقې په برکت داسې خواړه خپل روژه ماتي ته برابر کړي کوم،چې د اخیستلو توان یې نه لري.

د لمانځه په هکله یې ویل چې فرض لمونځونه زیات راځخه قضا شوي دي،خو قضا مې راوړې ده یوه روژه مې په سفر کې او دوه ورځې مې په مریضۍ کې قضا کړي دي،چې قضامې نده راوړې د ژوند په وروستي کال یې د روژې د نیولو توان نه درلود خو فدیه یې په منظم ډول ورکړې وه.

د سیاست اوسیاسي هلو ځلو په هکله یې ویل،چې زمونږ په هېواد کې ازمویل شویو سیاسي خلکو کې د هېواد سره دمینې خلکو ته دخدمت او د خدای څخه ویره په ندرت سره لیدل شوې ده

د امان الله خان تر بادشاه کیدو وړاندې مې یوازې دمولوي عبدالرب قندهاري سره څو ځلې کتلي وو.د هغه د سیاسي افکارو څخه متاثر شوی وم،خو په تاسف سره باید ووایم،چې نومورې د ۱۲۹۷ کال د حوت په میاشت کې صرف څو محدودې ورځې وړاندې تر دې،چې امیر حبیب الله خان په کله ګوش کې شهید کړی شي،په حق ورسید.د اعلیحضرت امان الله خان په دوره کې د هغوی له فرهنګي سیاست سره پوره موافق وم،خو له ځینو احساساتي غرب نمایی سره مې اتفاق نه درلود.

مرحوم خوږیاني صاحب ویل،چې امان الله خان غوښتل د جمعې ورځې رخصتي دیکشنبې ورځې ته واړوي،چې دغه کار د ملي احساساتو سره سمون نه خوړ.ما په دغه موضوع د اتحاد مشرقي د ۱۳۰۶ کال په یوه ګڼه کې یو بل متبادل پیشنهاد کړی و،اتفاقاً د نومورې ګڼې تر خپرېدو یوه ورځ وروسته اعلیحضرت امان الله خان جلال اباد ته په ناڅاپي توګه تشریف-

راوړ او دغه ګڼه يې لوستې وه،زه يې حضور ته وغوښتم ما ته يې وويل،چې ډير ښه پيشنهاد دې کړی دی،زه يوه اونۍ وروسته کابل ته خم ته به ژر راشې،چې هلته زه تا ته ضرورت لرم.خوږيانې صاحب وويل،چې ما د بادشاه په دغه حکم زر عمل ونکړ بل کال ته نا امنې مخ په زياتېدو شوه او دغه موضوع زمونږ د دواړولە يادەووتله. که چېرې د اتحاد مشرقي کلکسيونونه په ګوتو راغلل نوموړی پيشنهاد به د خپل مرحوم پلار او غازي امان الله خان د ارواح د خوښۍ په خاطر ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم.

خدای بخښلي خوږيانې صاحب په خپلو خاطراتو کې کښلي چې کله حبيب الله بچه سقاو په لاس او د امان الله خان د ډېرو نژدې ملګرو په مرسته اماني نظام رنګ کړای شو،نو د هېواد په هر ګوټ کې خصوصاً د پخواني مشرقي ولايت په بېلابېلو سيمو کې ډېرو کسانو د بادشاهۍ دعوا ګاني کولې،چې د شعور او احساس خاوندان نا آرامه وه په دغه جريان کې سردار محمد هاشم خان خوږيانيو ته راورسېدو. دا، چې د نوموړي مشر ورور د استقلال په حصول کې د پام وړ،بلکې غوڅونکې ونډه اخيستې وه او يو وخت د لوی مشرقي حاکم اعلی هم پاتې شوی وه،نوما او زما په شان نورو شپږ کسانو،چې په هغې جمله کې ما او دوه نورو کسانو ددې پخاطر،چې ښايي دوی به د اماني حکومت دبيا اعاده کولو پخاطر راغلي وي،ملا وتړله بالاخره دغه کار د پکتيا له لوري کامياب او د امان الله خان هجوي لاهماغسې جريان درلود. له يوې خوا دغه سياسي مرسته ناکامه وه،ځکه،چې زه خپل آخرين هدف ته نه وم رسيدلی،خوله بلې خوا د ډېرې پرېشانۍ باعث،ځکه نه وه،چې اعليحضرت محمد نادر شاه او د هغوي وروڼو په خصوصي مجالسو کې د امان الله خان د پلا نونو پر تطبيق تاکيد کاوه.

خوږيانې صاحب زياتوي له،چې په دغه سياسي حرکت کې ګډون څخه مې داسې اخيستنه وکړه،چې د سياسي افکارو خاوندان کوښښ کوي د خلکو له احساساتو څخه په ګټه اخيستو هغوی د خان ملګري کړي،خو عمل په هغو وعدو کوي کوم،چې د ده له پاره مفيدوي،نه هغه شيان،چې ملګري يې غوښتنه کوي.

خوږيانې صاحب زياتوي،چې تر دې وروسته مې پښې تينګې لګولې.لومړی مې سياسي خلک تللي،خو په سياست کې مې د هيڅا سره ملګرتيا نده کړې.هغه د دې له پاره،چې زما معاصرو سياسي خلکو تر هغه د ملت د ګټو او ملي منافعو خبرې کولې ترهغې،چې به وزګار وه ، خو کله به يې،چې سرکاري حتی ډېره وړه دنده ترلاسه کړه بيايې نه وطن،نه خلک نه خدای او نه داسې نور شعارونه يادېدل.

د خپل وخت په سياسي خلکو کې يې يوازې د ډاکټر محمودي صفت کولو او استدلال يې دا و ، چې محمودي د کابل ښار د متوسطې طبقې يو تعليم يافته ځوان و او د خپل عملي کار د پيل په ورځو کې د مامورينو د بيمې رئيس وټاکل شو.له دغې بيمې سره د هغه وخت بهرنيو ملګرونو بې ساري مرسته هم کوله ډېر فعال او د زياتو مالي امکاناتو درلودونکې يوه صحي اداره وه ډاکټر محمودي د نوموړې ادارې له رياست څخه په دې خاطر استعفی وکړه،چې د بيمې په چلولو کې يې ده ته د قانون په چوکاټ کې صلاحيتونه نه ورکړي او لويانو د بيمې له شتمنيو څخه ناوړه استفاده کوله.مستحق بېوزلي مامورين يې د بيمې له امتيازاتو څخه بې برخې کول.ډاکټر محمودي د بېوزلو او خوارو مامورينو د حقوقو د اعادې پخاطر احتجاجي استعفی ورکړه او سياسي ډګر ته يې ور ودانګل،خو دا،چې بهرنی لاس يې تر شانه درلوده،نو،ځکه دژوند تر آخرنيو سلګيو په بند کې پاتې شو.

زما مرحوم پلار خوږيانی صاحب زما د يو سوال په جواب کې د غلام محمد فرهاد د"افغان ملت ګوند" د موسس په هکله داسې وويل! غلام محمد فرهاد د پاکو او سپيڅلو افغاني احساساتو درلودونکی انجنير و،چې د کابل ښار د بربښنا په رياست کې يې د انجنير په حيث کار کاوه.د کابل ښاريانو نوموړي ته د زيات قدر په سترګه کتل.کله،چې د سردار شاه محمود خان حکومتي دوره کې لومړی ځل ښاروال په انتخابي ډول د کابل ښار له پاره ټاکل کېده غلام محمد فرهاد په جرمني کې د کابل ښار د بربښنا د زياتولو په هکله خبرې کولې، نو د کابل ښاريانو له خپلې لورې کانديد او بيا په اکثر رائيو د ښاروال په توګه انتخاب کړ.نوموړی د کابل ښاريانو د اعتماد پر بنياد د هغوی له پاره داسې مهم او اساسي ګامونه اوچت کړل،چې د کابل ښاروالی په تاريخ کې يې ساری نه ليدل کيږي.کله،چې د "افغان ملت ګوند" بنسټ د يو شمېر داسې کسانو له خوا کېښودل شو،چې د حکومت سره يې تر دې وړاندې وعده کړې وه،چې په عملي سياست کې به بيا ونډه نه اخلي او يا يې په هېواد کې ښه شهرت نه درلود،نو دغې موسسې کنګرې ښاغلي غلام محمد فرهاد،چې يو مطلق عملي،خو مخلص شخص و د دې له پاره د دې ګوند مشری ته وهڅولو،څو د ده د محبوبيت له امله دغه ګوند د کابل د ښاريانو له خوا تخريب نکړای شي.دا د ګوند له پاره د يوې خوا ښه هڅه وه،خوله بلې خوا د ګوند په راس کې د يوه غير سياسي سړي راوستل يوه اشتباه ګڼل کيږي

په هر صورت دغه ګوند د انجنیر غلام محمد فرهاد د نامه لاندې د کابل په ښار کې په ډېر جرت خپلې خپرونې وکړای شوې.

د ثور له کرغېرنې کودتا وروسته دخوږیانې صاحب د سیاسي برداشت په هکله یو څو مثالونه دلته وړاندې کوو:

د سردار محمد داود خان د جمهوریت پر مهال په بنګله دېش کې د افغانستان سفیر، چې اوس د متحد ایالاتو په لاس انجلس ښار کې اوسیږي د خوږیانې صاحب څخه پوښتنه وکړه، چې د افغانستان د اوسنۍ بدمرغۍ مسوولیت ځینې خلک پر داود خان او ځینې یې پرظاهر شاه ور اړوي. تاسو په دې هکله څه وایاست؟ خوږیاني صاحب په ځواب کې وویل! ټوله افغاني ټولنه په دې برخه کې مسوله ده. خصوصاً په څه پوه کسان. خو د هر شخص مسوولیت د هغه د صلاحیت په اندازه حسابولای شو زما په ګمان تر ټولو زیات مسوولیت ظاهر شاه ته متوجه دی نوموړی د افغانستان د خلکو لخوا منل شوی باد شاه و، څو میاشتې کم څلوېښت کاله یې په دې ملک پاد شاهي کړې وه پارلمان یې درلود، د خلکو لخوا تاکل شوی حکومت یې درلود او تر ټولو مهمه دا، چې په څو څو خلې حتی زما په وړاندې وده ته د داود خان د کودتا په هکله معلومات ورکړل شوي یوازې له وروستۍ کودتا نه بلکې ډېر پخوا حتی د داود خان تر صدارت هم وړاندې ده په کودتاګانو لاس پورې کړی و. د یوې ناکامې کودتا په نتیجه کې یې نژدې ملګری عبدالملک عبدالرحیمزی د مالیې وزیر هم د لاسه ورکړ، چې بیا د ثور تر کودتا وروسته د محبس څخه ازاد کړای شو. ظاهر شاه هر هغه چا ته چې د داود خان د ناوړه عزایمو په هکله به یې ده ته معلومات ورکول، نو ده به ویل څه وکړم دی، خو زما اغا لاله دی (د خور خاوند مې دی)

د پورتنیو څرګندونو څخه داسې برېښي، چې ظاهر شاه ته خپل ملت او هېواد تر داود خان زیات ارزښت نه درلود. که داسې نه وای ظاهر شاه ډېر ښه دیموکراتیک بدیل درلود. هغه دا، چې لویه جرګه یې راغوښتې وای او هغې ته یې ویلې وای، چې داود خان غواړي زما پر ځای کښینې، تاسو څه وایاست. که ملت داود خان تائید کړی وای، نو دی به ایتالیې ته په بهانه نه بلکې د خلکو په غوښتنه تللی وای او د اوسني ناورین مسوولیت به دلوېې جرګې په غاړه وای او که ملت دی غوښتی وای، نو ده به داود خان ته د لوېې جرګې د فیصلې پر اساس میاشتنی ښه کافي معاش تعین کړی وای او هر هغه هېواد، چې د داود خان خوښ و، هغې ته به یې استولی وای او ملک او ملت به یې د ده له شره خلاص کړې وای.

ارواښاد محمد امین خوږیاني د کمونیستي رژیم او د جهادي مشرانو په هکله په بنګله دېش کې د داود خان د جمهوري نظام د سفیر په جواب کې داسې وویل! ما تر دې وخته د افغانستان په سیاست کې پرځوانانو ډېر زیات حساب کاوه او دوې ته ستر ګې په لاره وم، خو تر کودتا وروسته خصوصاً د حفیظ الله امین او اوس د ببرک کارمل او د جهادي مشرانو خصوصاً برهان الدین رباني، عبدالرسول سیاف، ګلبدین حکمتیار او حضرت صبغت الله مجددي، چې ټول تعلیم یافته خوانان دي، نو ددوی کړو وړو او اختلافاتو دې نتیجې ته ورسولم، چې ځوانان تر پخوانیو سپین ږیرو هم بد دي، نو، ځکه د هېواد د سیاسي سموالي امیدونه مې په نا امیدۍ بدلې شوې خو دا، چې اسلامي عقیده مې د خدای ﷻ رحم ته رابولي، نو داوایم، چې لویه پروردګاره مونږ سپین ږیرو جوړه نکړه ځوانانو لاپسې خرابه کړه ته یې راسمه کړې. ددې دعا په امید به راتلونکې پاتې شپې ورځې سباکوو. وګورو، چې خدای ﷻ به کله په دې بې وزلې ملت ورحمیږي.

ارواح ښاد خوږیانې صاحب د ۱۳۶۵هـ ش د جدي په شپږمه نېټه د سهار تر راختو وړاندې د څلور ورځې کم ۸۸ کلونو په عمر د کابل ښار د علي اباد په شفاخانه کې د ورېښمي ناروغتیا له کبله وفات شو. د نوموړي جنازه په همدغه ورځ د ګن شمیر دوستانو په ګډون د پل خشتي په جومات کې ادا او د شهدا صالحین زیارت ته څېرمه د خپل نومیالي خسر شهید مولوي عبدالواسع قندهاري د مزار سره جوخت خاورو ته وسپارل شو روح دې ښاد وي (آمین).

نظام!

یو شمېر ډلو، افرادو، اشخاصو او معلوم الحالو کورنیو د افغانانو د ذهنیتونو د اړولو او د روان بحران د پای ته رسولو په نوم په سرونو تګ پیل کړی.

مطلب دا، چې د ناجایزو ګټو او منابعو په لټون اخته دي او داسې فکر کوي، چې د کوم نوي نظام جوړولو ته په پښو تګ همدا دی، چې دوی پیل کړی.

(خ.ق.خ)



ورځ ـ پنځم کال
دوه یمه گڼه
۱۳۸۳ هـ.ش
تله او لړم

د سایې پښتو څېړنو او پراختیا مرکز لخوا
کتابتون ته ـــــ توکه
اب د زړه له کومې دالۍ کوم
ورځ جلد
په درنښت
نېټه / / ۲۰۰
امام الدین سایې

موسس: امام الدین "سایې"

دامتیاز خاوند: د سایې د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز

د لیکنې پلاوی: علمي جرګه

تخنیکي چارځی: د سایې د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز

کمپوز او ډیزاین: دکمپیوټر څانګه

د کلنۍ گډون بیه: په افغانستان کې ۱۵۰ افغانۍ
په پاکستان کې ۱۸۰ کلداري
په بهرنو هېوادونو کې ۵۰ امریکایي ډالره یا د هغو معادل.
پوستي لګښت یې د اداري په غاړه دی.

د یوې گڼې بیه: په افغانستان کې ۲۵ افغانۍ
په پاکستان کې ۳۰ پاکستانۍ کلداري
په نورو هېوادونو کې ۵ امریکایي ډالره
دمحصل له پاره ۱۵ پاکستانۍ کلداري یا ۱۲ افغانۍ

پته: دفتر نمبر ۳۱۴، درېم پوړ، ګل حاجي پلازه
یونیورسټي روډ پېښور ـ پاکستان **فون او فکس :** 5704506
اکونټ نمبر: C-2099-5 تهکال پایان نیشنل بانک آف پاکستان.
برېښنا لیک: scprd@psh.paknet.com.pk